UNAMA
SRSG Briefing
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

## د افغانستان لپاره د عمومي منشي د ځانګړي استازي ښاغلي تداميچي ياماموتو له خوا د ملګرو ملتونو امنيت شورا ته وينا

*[څرنګه چې وړاندې شوی]*

نيويارک ۱۷ ډسمبر ۲۰۱۸

***

ښاغلی رييس،
نن غواړم چې پر ټاکنو او سولې تمرکز وکړم او د جنوا د وزيرانو کچې کنفرانس د پايلو يادونه وکړم.

لومړی ټاکنې.
د اکتوبر پر ۲۰ په افغانستان کې نږدې څلور ميليونو افغانانو د ولسي جرګې په ټاکنو خپله رايه وکاروله. د افغانستان وګړي به دغه راز راتلونکی کال د خپل راتلونکي ولسمشر په اړه مهم سياسي انتخاب ترسره کړي. دغه ټاکنې د يوې با ثباته تمثيلونکې ولسواکۍ د جوړولو په لور د هغوي خورا مهم ګامونه ګڼل کيږي.

له ۳۴ په ۳۳ ولايتونو کې د پارلماني ټاکنو له ترسره کيدو نږدې دوه مياشتې تيريږي. تر اوسه د ۲۹ ولايتونو پايلې اعلان شوي. لومړنۍ پايلې په ډاګه کوي چې د نوو غوره شويو نوماندانو ۲۸ سلنه ميرمنې دي، چې له ځانګړې شوې ونډې څخه يې شمير لوړيږي. موږ د هغو افغان وګړو زړورتوب او غښتلې اراده ستايو چا چې د رايې اچونې د اساسي حقونو د کارولو لپاره يې د طالبانو ګواښ ونه منلو.

کله چې موږ د دې کال ټاکنو ته ګورو، د دې درک کول اړين دي، چې يوازې د نړيوالو ماهرينو په مرسته او سلا مشورو سره تياريانې، تطبيقونه او دغه راز د امنيت ترتيبات د افغانانو له خوا نيول شوي وو. په ۲۰۰۵ کال کې د ټاکنو په پرتله کله چې ۵۵۰ نړيوال ماهرين د ټاکنو د تطبيق مسوول وو، سږ کال يوازې شا و خوا ۶۰ نړيوال ماهرين د سلا مشورو په ظرفيت کې په ټاکنو کې برخه اخيستې وه. دغه راز سږ کال افغان دولت د تير په پرتله ډيری لګښتونه پر غاړه اخيستي وو. د ټاکنو لپاره نړيوالې مرستې په ۲۰۱۴ کې له نږدې ۱۴۰ ميليونه امريکايي ډالرو څخه سږ کال ۶۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته راکښته شوي.

د امنيت په برخه کې ګواښونه واقعي وو: له ۱۰۸ څخه زياتې تاييد شوې پيښې رامنځ ته شوې چې د ۴۰۰ ملکي تلفاتو لامل شوې، له کومه چې په ۲۰۰۹ کې په سيستماتيک ډول د تلفاتو ثبتول پيل شوي د ټاکنو پر يوه ورځ د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمير په ډاګه کوي. په ورته وخت کې دا بايد ومنل شي، چې د ټاکنو د مودې په اوږدو کې د ملکي تلفاتو شمير په ۲۰۱۴ کې له هغه سره د پرتلې وړ دی. موږ بايد د ملي امنيتي ځواکونو د هڅو قدرداني وکړو چا چې سږ کال د پام وړ نړيوال ملاتړ پرته کوم چې دوي په ۲۰۱۴ کې له ځان سره درلود، تر ډيره امنيت په خپله برابر کړ.

په داسې حال کې چې د پارلماني ټاکنو په تياريو او تطبيق کې د ټاکنو د مديريت کوونکو ادارو له خوا د مخنيوي وړ بې نظمۍ موجود وې، دا څرګنده ده چې دغه انتخاباتي اداري تر ولسمشريزو ټاکنو مخکې په زياته کچه د ځان اصلاح ته اړتيا لري. د ولسي جرګې د ټاکنو بې نظمۍ او مديريتي تيروتنې د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د منلو وړ نه دي. موږ په کلکه د ټاکنول له خپلواک کميسيون، د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون او همدارنګه له دولت څخه غوښتنه کوو چې په راتلونکو مياشتو کې ټول اړين رغنده اقدامات ترسره او اصلاحات بشپړ کړي، څو ستونزې حل شي څرنګه چې دوي په ۲۰۱۹ کې د ولسمشريزو ټاکنو لپاره چمتوالی نيسي. دا خورا مهمه ده چې د اصلاحاتو او بسيا تياريو ته د فرصت برابرولو له لارې

باوري ټاکنې ترسره شي، نه دا چې د زده شویو لوستونو پر بنسټ له مناسبو اصلاحاتو پرته ټاکنې ترسره شي. ولسمشریزې ټاکنې د دغه هیواد د راتلونکې لپاره خورا مهمې دي.

له افغان ادارو سره زموږ د ژمنو د یوې برخې په څیر څو باوري ولسمشریزې ټاکنې ترسره کړي، ملګري ملتونه به د ولسمشر او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون غوښتنې ته په غبرګون کې په نوموړي کمیسیون کې د رایه نه ورکوونکو غړو په څیر د دوو نړیوالو ماهرینو د ټاکنې سپارښتنه وکړي. موږ به دغه راز د ټاکنو په خپلواک کمیسیون کې د نړیوالو ماهرینو د نقشونو بیا ارزونه وکړو او دا به معلومه کړو که چیرې د نورو هغو اړتیا وي.

ښاغلی رییس،
د افغان حکومت او ملګرو ملتونو په ګډ کوربتوب د وزیرانو کچې کنفرانس د نومبر پر ۲۸ په جینوا کې ترسره شو. په دغه کنفرانس کې ۹۶ هیوادونو او ادارو ګډون کړی و. نړیوالې ټولنې بیا تایید کړه چې دوي به د نړیوالو شریکبانو او دولت ترمنځ د دوه اړخیزې حساب ورکونې پر بنسټ له افغانستان خپلې مرستې جاري وساتي څو ځان بساینې ته ورسیږي. کنفرانس د اصلاحاتو په برخه کې د ښه والي اړتیا ومنله په داسې حال کې چې دوه اړخیزې حساب ورکونې او د واقعي اصلاحاتو اجنډا ته یې د حکومت ژمنتوب تایید کړ، په تیره بیا له اداري فساد سره مبارزې ته. په کنفرانس کې همدارنګه د خصوصي سکتور او د سیمه ییز اقتصادي نښلون اهمیت په ډاګه شو. د کنفرانس په پای کې یوه ګډه رسمي اعلامیه او د جینوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ د رایو په اتفاق تصویب شول.

د جینوا د وزیرانو کچې کنفرانس بله کلیدي پایله تر سولې په وروسته پړاو کې د دوامدار نړیوال ملاتړ ډاډ و. نړیوالې ټولنې له طالبانو سره د سولې موافقې ته تر رسیدو په وروسته صورت کې هم افغانستان ته د مرستو برابرولو له دوام سره خپل ژمنتوب په ډاګه کړ.

ښاغلی رییس،
په تیرو ۱۷ کلونو کې د جګړې د مذاکره شوي پای شونتیا هیڅکله هغومره ریښتنې نه وه، لکه اوس چې ده. د افغانانو له خوا د سولې پلان د ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبد الله له خوا د جینوا د وزیرانو کچې په کنفرانس کې وړاندې شو. له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو مرکچي پلاوی وټاکل شو. د سولې د هڅو د ملاتړ او سلا مشورو په موخه د سولې مشورتي لوړ پوړی بورډ چې له افغان سیاسیونو جوړ دی هم اعلان شو. د ډسمبر پر ۹، د سولې د عالي شورا د دار الانشاء نوی رییس وټاکل شو. په جینوا کې د سولې په اړه په یوې ځانګړې ناسته کې ګډونوالو پر دې ټینګار وکړ چې د سیمه ییزو فعالینو او ګاونډیو په ګډون ټولې نړیوالې هڅې باید د افغانانو په مشرتابه او د هغوي په مالکیت د سولې له هڅو سره په همغږیتوب کې وي. دغه کلیدي توافق د وخت سره سم او مهم دی، څرنګه چې د سولې پروسې د پرمختګ لپاره یو شمیر نوښتونه تر لاس لاندې دي. د مثال په ډول، د سولې لپاره د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړی استازی له مختلفو اړوندو خواوو سره په فعال ډول لیده کاته ترسره کول؛ او د نومبر پر ۹ په مسکو کې یوه غونډه ترسره شوه، چیرې چې د سیمې مختلفو خواوو د سولې د خبرو اترو لپاره ګډون کړی و. د ګاونډیو په ګډون د سیمې زیات شمیر هیوادونو د سولې پروسې لپاره چې د راڅرګندیدو په حالت کې ده خپل ملاتړ په ډاګه کړ.

یوناما هم دغو پرمختګونو ته هیله منده ده. که څه هم موږ پوهیږو چې دغه پرمختګونه په یوه نازک پړاو کې دي، خو د اصلي فعالینو لپاره باید داسې سیاسي فضا برابره شي څو خپل دریځ په ډاګه کړي، چې وروستیو پرمختګونو ته څرنګه غبرګون ښیي. بل مهم ګام به د دولت او طالب استازو ترمنځ لیدنه وي، یا لږ تر لږه کوم څه چې په منځګړیتوب کې د

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

"خبرو په اړه خبرې" یادیږي په رسمي ډول پیل شي. موږ هیله لرو چې اوسنی خوځښت به دغه ډلې سره یو ځای کړي، څو په دې لټه کې شي چې څرنګه یوه سوله ییز حل ته د رسیدو لپاره د اجنډا ګڼ شمیر ټکو ته رسیدګي وکړي.

ښاغلی رییس،
په دې غونډه کې ما په مکرر ډول د دې اړتیا په اړه خبرې کړې چې د پاشلو اړیکو پر ځای د تنظیم شویو رسمي خبرو اترو په لور وښورو. د دغه بدلون د رامنځ ته کولو لپاره هڅې رواني دي. په داسې حال کې چې 'جګړه کول او خبرې اترې کول' د سولې پروسې په لومړنیو پړاونو کې زیاتره یو واقعیت وي، خو دا هم یو واقعیت دی چې د جګړې په ډګر کې کړنې د سولې په هره پروسه کې پر پرمختګ اغیز کوي. نو له همدې امله زه د جګړې له ښکیلو خواوو غوښتنه کوم چې په احتیاط سره دا په پام کې ونیسي چې څرنګه کولی شي د تاوتریخوالي کچې راکمې کړي: په تیره بیا ولسي وګړو ته زیان اړول. زه له ټولو غوښتنه کوم چې باور زیات او د ډیالوګونو د رامنځ ته کولو لپاره زمینه برابره کړي. زه په ځانګړي ډول د سیمې پر هیوادونو غږ کوم، چې د سولې د خبرو اترو لپاره د یوه مساعد چاپیریال په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي، څو افغانان وکولی شي خپل منځي توپیرونه د خبرو اترو له لارې حل کړي.

له اړیکو خبرو اترو ته په ښوریدو سره، موږ کولی شو د جګړې له منطق و بل داسې هغه ته وښورو چې د سولې لپاره پر فرصتونو تمرکز کوي. له دغه خوځښت سره، موږ د دې پر ځای چې له یوه بې ثباته افغانستان څخه د راولاړیدونکو ګواښونو څخه په دومدار ډول و ویریږو، د ژمنو او د ودې وړتیا لرونکي سیمي په منځ کې د یوه باثباته افغانستان ګټې پیشبیني کولی شو. څرنګه چې ولسمشر غني په ډاګه کړې، د افغانستان په اړه "د خطر د ساحې او جګړې د ډګر" څخه "د موقعیت او ستراتیژیک لید له لارې د همغږۍ پلاټفورم" ته د پوهیدنې/انګیرنې بدلون ته اړتیا ده. دا د هیلې او شونتیا شیبه ده. د نورو ټولو دغه ډول شیبو په څیر، کله چې رقیبان/دښمنان یو له بل سره یو ځای کیدل پیلوی، دا همدارنګه د خطر شیبه هم ده. د افغانستان لپاره د یوه سوله ییز راتلونکي په پار، دغه فرصتونه باید پر ځای/ښپړ او خطرونه مدیریت شي.

ښاغلی رییس،
د یوناما د بشري حقونو ځانګړي راپور ورکړی، چې د روان کال د جنوري د لومړۍ او سپتمبر د ۳۰ نېټې ترمنځ له ۸۰۰۰ څخه زیات ملکي تلفات رامنځ ته شوي. دغه اندازه د تیر کال له تلفاتو سره ورته ده. په ورته موده کې د ماشومانو تلفات د ۲۱۳۶ شمیر په درلودو سره اوس هم په لوړه کچه دي. د ټولو ښکیلو خواوو له خوا باید د ملکي تلفاتو د راکمولو لپاره هڅې ترسره شي. د دغو تلفاتو کابو ۶۰ سلنه د ځانمرګو بریدونو او ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي. سږ کال د دولت ضد عناصرو له خوا د ولسي وګړو په مستقیم ډول په نښه کول زموږ لپاره یوه اندیښنه ده. موږ دغه راز د هوایي عملیاتو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالی ملاحظه کړی. یوناما همدارنګه په روان کال کې د ځانمرګو او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د نورو بریدونو له امله چې مسوولیت یې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې منلی ۱۵۱۳ ملکي تلفات ثبت کړي. دا د تیر کال د ورته مودې په پرتله له درې چند د زیات زیاتوالی ښکارندوی ده. هغو لارو چارو ته په کتو چې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله یې په واسطه د نړۍ په نورو برخو کې خپل نفوذ پراخوي، موږ د دغې ډلې له خوا د ګواښونو له امله اندیښمن یو.

ښاغلی رییس،
مخکې تر دې چې خپله وینا پای ته ورسوم، د دې اړتیا وینم چې په هیواد کې د روان کړاو یادونه وکړم، چې زیات شمیر وګړي ور څخه کړیږي. په اقتصادي اصلاحاتو کې له پرمختګ سره سره، هیواد لا اوس هم د نړۍ یو له بې وزلو هیوادونو څخه ګڼل کیږي، او د اقلیم له بدلون څخه هم اغیزمن شوی. د وچکالی او تاوتریخوالي له امله ځېل شوي وګړي د زیاتې اندیښنې وړ دي او د ۴.۵ میلیونو وګړو کړاو باید کم کړای شي. ملګري ملتونه او همکارې ادارې د افغانستان لپاره د بشري

غبرګون پلان خپروي. د ۲۰۱۹ کال لپاره شا و خوا ۶۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته اړتیا ده، او زه له نړیوالې ټولنې په ټول افغانستان کې د اړمنو وګړو د مرستې لپاره د هغوي د چټک مالي ملاتړ غوښتنه کوم.

ډیره مننه.

* * *

*یوناما ته د یوه سیاسي ماموریت په حیث د افغان دولت او د افغانستان د خلکو د ملاتړ په موخه ماموریت ورکړل شوی کوم چې د نورو مهمو خدمتونو تر څنګ " د ښه نیت هڅې برابروي ". د "ښه نیت هڅې" هغه ډیپلوماتیک اقدامونه دي چې ملګري ملتونه یې د خپلې خپلواکۍ، بې طرفي او تمامیت په اړه په عامه او خصوصي محافلو کې اخلي څو د نړیوالو شخړو د راپورته کېدو، تشدید کیدو یا پراخیدو مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې د پروسې سره مرسته کوي، بشري حقونه نظارت کوي او هغو ته وده ورکوي، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په شمول، ښه حکومتولي ترویجوي او سیمه ییزه همکاري تشویقوي. ماموریت همدارنګه د نړیوالې ټولنې له خوا همغږۍ پرمختیا ته وده ورکوي.*